# د میلمستیا آداب

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد
(دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

وړوکے اختر (کال 2026ء/ 1447ھ)



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

ورړوکے اختر (کال 2026ء/ 1447ھ)

# د میلمستیا آداب

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د ښه اِنسان یوه نخښه
- نا اشنا میلمستیا، ځانګړے اَجر
- فرښتے ورته د یو کال پورې دعاګانې کوي
- د میلمستیا کولو یو ضروري ادب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شریف فضیلت

**په روایت کښې دي:** کوم اِنسان چې په خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زیارت کولو خواهش لري، هغهٔ له پکار دي چې دا دُرُودِ پاک لولي:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا ھُوَ اَھۡلُهٗ اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرۡضٰی لَهٗ

خوک چې دا دُرُود شریف لولي، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! په خوب کښې به د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دیدار جامونه نُوش کوي - [1]

میری آنکھ میں سمانا مَدَنی مدینے والے
بنے دِل ترا ٹھکانا مَدَنی مدینے والے
تِری جب کہ دِید ہو گی جبھی میری عید ہو گی
میرے خواب میں تم آنا مَدَنی مدینے والے [2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رَمَضَان نه پس اختر وي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن د اختر ورځ ده، د الله پاک د رحمت د نصیب کیدو

[1]... القول البدیع، الباب الاول فی الامر بالصلاۃ علی رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:57۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:424۔

برکتي ورځ ده- امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلي دي:

بعدِ رَمضان عید ہوتی ہے
رَبّ کی رَحمت مزید ہوتی ہے
جس کو آقا کی دید ہوتی ہے
اس پہ قربان عید ہوتی ہے
عید تجھ کو مبارک اے صائم!
روزہ داروں کی عید ہوتی ہے
روزہ داروں کے واسطے واللہ!
مغفرت کی نَوِید ہوتی ہے
عید کے دِن عمر یہ رَو رَو کر
**بولے نیکوں کی عید ہوتی ہے**
عیدِ عطّارؔ اُس کی ہے جس کو
خواب میں اُن کی دِید ہوتی ہے [1]

## اختر د بخښنې ورځ ده

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! لکه څنګه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت د بخښنې میاشت ده، هم دغه شان د وړوکي اختر دا مبارکه ورځ هم د رَبِّ رحمان د رحمتونو د حاصلولو ورځ ده- د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا **پهٔ يو روايت کښې دي:** چې کله د اختر سحر شي نو الله پاک خپلې معصومې فرښتے ټولو ښارونو ته ليږي، هٔغه فرښتے زمکې ته تشريف راوړي او پهٔ ټولو کوڅو او لارو کښې ودريږي او داسې اِعلان کوي: اے د مُحَمَّد [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اُمَّته! د هٔغه رَبِّ کريم بارګاه طرف ته روان شئ! کوم چې ډير زيات عطا کوونکے او د لوئي نه د لوئي ګناه معاف کوونکے دے-

بيا الله پاک خپلو بندګانو ته داسې خطاب فرمائي: اے زما بندګانو! غواړئ! څهٔ غواړئ! زما پهٔ عزت او جلال مې دې قَسم وي! پهٔ ننۍ ورځ پهٔ دې (د اختر د نـمونځ پهٔ) اجتماع کښې چې د خپل اخرت پهٔ باره کښې څهٔ سوال هم کوئ هغه به پوره کووم او څهٔ چې د دُنيا پهٔ باره کښې غواړئ، پهٔ هغې کښې به ستاسو د خير طرف ته نظر کووم (يعني پهٔ هٔغه معامله کښې به هغه کووم پهٔ کومه کښې چې ستاسو خير وي)- زما پهٔ عزت مې دې

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 707 ملتقطًا-

قَسم وي! تر څو پورې چې تاسو زما لحاظ کوئ، زۀ به هم ستاسو پۀ خطاګانو باندې پرده اچووم- زما پۀ عزت مې دې قَسم وي! زۀ به تاسو د حد نه د اوغوښتونکو (يعنې د مجرمانو) سره نۀ رسوا کووم- بس د خپلو کورونو طرف ته بخښلے شوي واپس شئ! تاسو زۀ راضي کړم او زۀ ستاسو نه راضي شوم-[1]

| | |
|---|---|
| میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ |
| بنادے مجھ کو مُحَمَّدِ مصطفےٰ کا عاشِقِ صادِق | تُو دیدے سوزِ سینہ، کر عنایت چشمِ نَم مولیٰ |
| نہیں درکار وہ خوشیاں، جو غفلت کا بنیں ساماں | عطا کر اپنی اُلفت اپنے پیارے کا تُو غم مولیٰ [2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اختر اُمبارکي ورکوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اختر ورځ د خوشحالۍ او د برکت ورځ ده، ځکه پۀ دې ورځ د يو بل سره ميلاوېدل، سلام او مصافحه کول (يعنې لاس ميلاوهل)، يو بَل له اُمبارکي ورکول ښه کار دے- حضرت جُبَير بن نُفَير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې د اختر پۀ ورځ چې به کله صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضْوَان د يو بل سره ميلاوېدل نو اُمبارکۍ به يې ورکولې او تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكَ به يې وئيل-[3]

عید کا دِن ہے گلے آج تو مل لو یارو!
رسمِ دُنیا بھی ہے، موقع بھی ہے، دستور بھی ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]… شُعَبُ الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:336، حدیث:3695۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحہ:98 99 ملتقطًا۔

[3]… فتح الباری، کتاب العیدین، باب سنة العیدین لاہل الاسلام، جلد:2، صفحہ:575۔

## د یو وَلي اختر

حضرت شیخ نَجِیبُ الدِّین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د بابا فرید رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ورور هم دے او خلیفه هم دے- د هغوئي لقب مُتَوَكِّل وو: یعني پهٔ الله پاک باندې باور لرونکے، توکل کوونکے- حضرت شیخ نَجِیبُ الدِّین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به د الله پاک پهٔ یاد کښې دومره ډوب وو چې (بعضې وخت) به ورته دا هم نهٔ معلومیدله چې کومه ورځ ده؟ کومه میاشت روانه ده؟ سِکه د څو روپو ده؟

یو ځل د اختر ورځ وه، د شیخ نَجِیبُ الدِّین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ کور کښې ډیر میلمانهٔ راجمع شول- پهٔ اتفاقي توګه پهٔ هغه ورځ د هغوئي پهٔ کور کښې د خوراک څښاک د پاره هیڅ سامان موجود نهٔ وو- (پهٔ ظاهره دا د یوې پریشانۍ حالت وو، ظاهره ده چې د اختر ورځ وي، د خوشحالو موقع وي، کور ته میلمانهٔ راشي او د انسان سره هیڅ هم نهٔ وي--- پریشاني خو به وي، د اِنسان زړهٔ خو خفه کیږي خو دے د الله پاک نیک بنده وو، توکل کوونکے وو، پهٔ الله پاک باندې یې پوره باور لرلو، هغوئي نهٔ څهٔ ګیله اوکړه، نهٔ شکایت، نهٔ یې پهٔ خُله څهٔ غلط لفظ ووئیلو، نهٔ یې زړهٔ ته خفګان واچولو، بیا هغوئي څهٔ اوکړل؟) بالاخانې (یعني د کور بره والا منزل) ته یې تشریف یوړلو او پهٔ تنهایۍ کښې کیناستو او د الله پاک پهٔ یاد کښې مصروفه شو- یو طرف ته خو د الله پاک یاد جاري وو، ورسره ورسره یې پهٔ زړهٔ کښې عرض هم کولو چې یا الله پاکه! نن د اختر ورځ ده او زما کور ته میلمانهٔ راغلي دي-

د یو حق بنده، کامِل ولي د زړهٔ نه وړاندې کړے شوے عرض فوراً قبول شو، ناڅاپه پهٔ چت باندې یو کَس ظاهر شو، د هغه پهٔ لاس کښې د خوراکونو یو ډک دسترخوان وو، هغه غیبي کَس هغه دسترخوان د حضرت نَجِیبُ الدِّین رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ خدمت کښې پیش

کړو او واپس لا ړو-[1]

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسن | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا[2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یقیناً څوک چې په الله پاک باندې یقین لري، رَبِّ کریم په هغوئي باندې ډیر کرم فرمائي- الله پاک دې زمونږه هم د توکل او د یقین دولت نصیب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د میلمستیا آداب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن د اختر ورځ ده، عام طور د اختر په ورځ او د دې نه پس هم د یو څو ورځو پورې میلمانهٔ ځي راځي، کله مونږ د چا میلمانهٔ کیږو او کله څوک زمونږ میلمانهٔ کیږي او زمونږ کره تشریف راوړي، یعنې د اختر دا ورځې د میلمنو د تګ راتګ (تللو راتللو) ورځې دي، دې وجې نه راځئ چې د میلمستیا یو څو فضیلتونه او آداب واورو:

## میلمستیا د اِیمان تقاضا ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دِینِ اِسلام کښې میلمستیا له ډیر اهمیت ورکړے شوے دے- د دې پورې چې دا نیک عمل د ایمان په بنیادي تقاضو کښې شامل کړے شوے دے- په حدیثِ پاک کښې دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفًا یعنې څوک چې په الله پاک باندې او

---

[1] ... فیضانِ رمضان، صفحه:309۔

[2] ... ذوقِ نعت، صفحه:18۔

د قيامت په ورځ باندې ايمان لري، هغهٔ له پکار دي چې د ميلمه عزت کوي-[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! وګورئ چې څومره ښکلې خبره ده، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ميلمستيا د ايمان سره تړلې ده او ذِکر يې فرمائيلے دے، لکه چې دا ووئيلے شو چې د ميلمه عزت کول، د ميلمه په ښه انداز کښې قدر مدار کول د ايمان بنيادي تقاضا ده، چې څوک مسلمان دے، کوم اِنسان چې په الله پاک باندې يقين لري، د قيامت په ورځ باندې يقين لري، د هغهٔ په اخلاقو کښې دا بنيادي خبره شامليدل ضروري ده چې هغه دې د ميلمه عزت کوي-

## د دريو بسترو د جوړولو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورورو! مونږ ته د ميلمستيا د کوم حده پورې سبق راکړے شوے دے، د دې اندازه د دې حديث پاک نه ولګوئ! خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: (اِنسان له درې بسترې جوړول پکار دي!) (1): يوه د ځان د پاره (2): يوه د خپلې ښځې د پاره (3): او دريمه د ميلمه د پاره-[2]

وګورئ چې په دې روايت کښې مونږ له دا سبق راکړے کيږي چې يو مسلمان له د ميلمه د راتلو او د هغه د قدر مدار کولو د پاره، د هغهٔ د ارام د پاره هر وخت تيار اوسيدل پکار دي، د دې پورې چې کله د کور د پاره بسترې جوړوئ! نو صرف د خپل کور د کسانو د شميرې مطابق بسترې مهٔ جوړوئ! بلکې د ميلمه د پاره هم د اوس نه تيارے اوکړئ! څهٔ بسترې زياتې هم جوړې کړئ د پاره د دې چې ميلمه راشي نو د هغهٔ څهٔ ميلمستيا اوکړے شي-

---

[1]... بخاری، کتاب الادب، باب من کان یؤمن باللہ...الخ، صفحه:1500، حدیث:6018۔

[2]... مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما یستحب من اتخاذ...الخ، جلد:2، صفحه:199، حدیث:372۔

## د ښهٔ اِنسان یوه نخښه

دغه شان پهٔ یو **حدیثِ پاک** کښې میلمستیا د اِنسان د کردار سره تړلې بیان شوې ده، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **لَا خَيْرَ فِيْمَن لَا يُضَيِّفُ** یعنې پهٔ هٔغه اِنسان کښې هیڅ خیر نشته، کوم چې میلمستیا نهٔ کوي-[1]

وګورئ چې میلمستیا له څومره اهمیت ورکړے کیږي، دا وئیلے کیږي چې د اِنسان د ښو او بدو، د هغهٔ د شر او د خیر معیار میلمستیا ده ❁ څوک چې میلمه دوست وي ❁ د میلمه عزت کوي ❁ میلمه ته سکون او ارام رسوي ❁ چې میلمه یـې کور ته راشي نو ډیر خوشحالیږي ❁ هٔغه اِنسان ډیر ښه دے، د هغهٔ پهٔ کردار کښې، د هغهٔ پهٔ اخلاقو کښې، د هغهٔ پهٔ سیرت او ذات کښې خیر دے او ❁ کوم اِنسان چې د میلمه عزت نهٔ کوي ❁ میلمه یـې کور ته راشي نو تندے یـې راچولے وي ❁ پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې پریشانه کیږي ❁ د میلمه پهٔ ښه طریقه میلمستیا نهٔ کوي، د داسې اِنسان پهٔ اخلاقو او کردار او د هغهٔ پهٔ ذات کښې هیڅ خیر نشته-

## د اللّٰه پاک چې څوک خوښ وي هغه له ښه اخلاق ورکوي

د حدیثونو پهٔ کتابونو کښې د سبق نه ډکه یوه واقعه درج ده، روایت څهٔ داسې دے چې یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشریف وړلو، پهٔ لاره کښې د یو مالداره ګس پهٔ خوا تیریدلو، د هٔغه ګس سره ډیر اوښان او چیلۍ وې (یعنې د دې وخت مطابق داسې ووایئ چې هٔغه ګس ښه موړ وو)- د دې باوجود هٔغه ګس د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلمستیا اونکړه- بیا رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یوې

[1]... مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما جاء فی اکرام الضیف...الخ، جلد:2، صفحه:155، حدیث:329-

صحابيي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا د کور پهٔ خوا تيريدلو، دا صحابيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا ډېره مالداره نهٔ وه، د هغې سره يو څو وړې وړې چيلۍ وې، هغې چې کله رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وليدلو (نو خوشحاله شوه، پهٔ خپل قِسمت باندې يې ناز شروع کړو چې واه! څومره ښکلے شان دے رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې د غريبۍ کور ته تشريف راوړې)۔

خوش آمدید وہ آئے ہماری چوکھٹ پر | بہار جن کے قدم کا طواف کرتی ہے

نو هغې صحابيه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا زر يوه چيلۍ ذبح کړه او د زړهٔ پهٔ خوشحالۍ يې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ميلمستيا سعادت حاصل کړو۔ کله چې دا معامله وشوه نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: وګوره--!! يو طرف ته هغه ګس دے، د هغهٔ سره د اوښانو او د چيلو رَمې دي خو هغه زمونږ ميلمستيا اونکړه۔ بل خوا دا زنانه ده، د دې سره صرف يو څو وړې وړې چيلۍ دي (خو د دې زړهٔ غټ دے) دې زمونږه ښه ميلمستيا کړې ده۔ بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنَّما هٰذِهِ الۡاَخۡلَاقُ بِيَدِ الله دا ښه اخلاق دي، کوم چې د الله پاک پهٔ قبضه کښې دي، د الله پاک چې چا ته وغواړي ښه اخلاق ورکوي۔ [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ دې واقعه باندې لږ غور اوکړئ چې پهٔ دې يوه واقعه کښې د ډيرو خلقو عکاسي شوې ده ❀ څومره داسې خلق دي چې الله پاک هغوئي ته ډيره عطا کړې ده، ډير مال يې ورکړے دے خو د هغوئي زړونه ډير واړهٔ دي ❀ ميلمه چې راشي نو د هغوئي زړونه مړاوي شي ❀ ساګ ترې سيلۍ يوسي ❀ پهٔ نورو پهٔ خوړلو خښلو کښې د کنجوسۍ نه کار اخلي ❀ بل خوا څومره داسې خلق هم شته چې مال ورسره شته يا نشته، که الله مالداره ساتلي دي او که غريب خو هغوئي له يې زړونه غټ ورکړې دي۔ ❀ څومره داسې خلق وي، د هغوئي کره چې يو ځل لاړ شې نو د هغوئي د

---

[1]… مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما جاء فی اکرام الضیف…الخ، جلد:2، صفحه:158، حديث:332۔

میلمستیا انداز، د هغوئي د جوش نه ډک هرکلے، د هغوئي پۀ خوشحالیٔ د میلاؤیدو انداز ټول عمر یاد وي- دا د الله پاک عطا ده، رَبِّ کریم چې چا ته وغواړي غټ زړۀ او ښه اخلاق ورعطا کړي-

اوس مونږ ته پۀ دې باره کښې غور کول پکار دي چې زۀ پۀ کومو خلقو کښې شمیرلے کیږم؟ ❁ آیا زۀ پۀ هُغه خلقو کښې یم ثوک چې رَبِّ کریم د ښو اخلاقو د پاره منتخب کړې دي؟ ❁ آیا پۀ ما کښې د میلمستیا کولو صفت موجود دے؟ ❁ آیا زما کور ته چې میلمانۀ راشي نو زۀ د هغوئي تود هرکلے کووم که نۀ--؟ که خپل ځان یو ښه میلمه دوست وینیٔ نو پۀ دې باندې خوشحالیدل پکار دي او د الله پاک شُکر هم ادا کول پکار دي، خُدائے دې نۀ کړي که چرې داسې نۀ وي، تاسو خپل ځان میلمه دوست نۀ وینیٔ نو دا د فِکر مندیٔ خبره ده ځکه چې پۀ هُغه اِنسان کښې هیڅ خیر نشته، کوم چې میلمه دوست نۀ دے- الله پاک دې مونږ ته پۀ اِخلاص سره پۀ ښه انداز کښې د میلمستیا کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## نا اشنا میلمستیا، ځانګړے اَجر

ډیره مشهوره واقعه ده، دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته یو ځل یو وږے ګس حاضر شو، خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو اُمَّهاتُ المُؤمِنِین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُن پۀ کورونو کښې معلومات اوکړل چې د خوراک څۀ څیز میلاؤ شي خو د چا کره د خوراک هیڅ څۀ څیز نۀ وو- رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم ته وفرمائیل: څوک چې دا میلمه جوړ کړي، **الله پاک** دې پۀ هغۀ رحمت نازل کړي- حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ ودریدو او میلمه یې خپل کور ته بوتللو، کور ته چې لاړو نو د خپلې کور وداني نه یې پوښتنه اوکړه: پۀ کور کښې څۀ خوراک شته؟ هغې ووئیل: صرف د ماشومانو د پاره مې لږ شان

ایښودے دے- حضرت ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ وفرمائیل: ماشومان پهٔ لوبو لوبو اودهٔ کړه- او کله چې میلمه د خوراک د پاره کښیني نو د ډیوې د تیک کولو پهٔ بهانه پاسه او مړهٔ یې کړه، د پاره د دې چې میلمه پهٔ صحیح طریقه خوراک اوکړي- دا کار دې د پاره چې میلمه ته دا معلومه نهٔ شي چې د کور والا د هغهٔ سره خوراک نهٔ کوي ګنې بیا به ورته د خوراک وائي او خوراک لږ دے، نو میلمه به وږے پاتې شي- پهٔ دې طریقه حضرت ابو طلحه پهٔ میلمه باندې ډوډۍ وخوړله او ځپله کور والا پهٔ نهره شپه تیره کړله- کله چې سحر شو او دربارِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شول- نو د الله پاک محبوب، د غیبو نه خبر آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ پهٔ لیدلو وفرمائیل: **د شپې د فلانکي فلانکي پهٔ کور کښې عجیبه معامله وشوه- الله پاک هغوئي ته کتل او مُسکے شو** (یعني ډیر راضي شو)- د دې واقعې پهٔ باره کښې د **سُورۂ حَشر** دا آیت نازل شو: [1]

| | |
|---|---|
| وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ؕ۫ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ﴿۹﴾<br>(پاره:28، سورۂ اَلْحَشر:9) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغوئي [ته] پهٔ خپلو ځانونو ترجیح ورکوي اګر که هغوئي ځپله حاجت لري، او څوک چې د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شو نو هُم هغه خلق کامیاب دي- |

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې میلمستیا ده- حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ خپل ضرورت شاته کړو، ځپله یې هم پهٔ نهره شپه تیره کړله او د خپل ضرورت خوراک یې هم پهٔ میلمه باندې اوخوړو- بیا اَجر ته وګورئ چې څومره ځانګړے میلاؤ شوے دے- خوږ

---

[1] ...بخاری، کتاب التفسیر، باب سورۂ حشر، صفحه:1253، حدیث:4889

آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د شپې د ابو طلحه په کور کښې عجیبه معامله وشوه او الله پاک هغوئي ته په کتلو مُسکے شو۔

د الله پاک مُسکي کیدل څنګه دي؟ د دې نه هم هغه ښه خبر دے، د هغهٔ مُسکي کیدل زمونږ د مسکي کیدو په شان نهٔ دي، هغه رَبّ دے، هغه رحمان دے، هغه بے نیازه دے، **علمائے کرام فرمائي:** د رَبِّ کریم د مُسکي کیدو معنیٰ دا ده چې الله پاک د داسې اِنسان نه ډیر راضي کیږي۔ [1] یعني مطلب دا شو چې حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په نا اشنا انداز د میلمه میلمستیا اوکړه نو الله پاک د هغوئي نه ډیر زیات راضي شو۔

## کور ته خیر او برکت په مَنډه راځي

د حضرت اَنس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بیان دے چې د مدینے منورې تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: په کوم کور کښې چې میلمه وي، هٰغه کور ته خیر او برکت داسې په منډه راځي لکه څنګه چې د اوښ د قُب(کوف) نه چاړهٔ (په تیزئ سره غورځیږي) بلکې د دې نه هم تیز۔ [2]

تاسو به اوښ لیدلے وي، د اوښ قُب د غر په شان وي، د هغې د پاسه څهٔ څیز نهٔ ایساریږي، که په هغې باندې څرته چاړهٔ کیښودے شي نو په تیزئ سره لاندې راغورځیږي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې مثال په ذریعه مونږ پوهه کړو چې که د اوښ په قُب باندې چاړهٔ کیښودے شي نو څومره په تیزئ سره چې هٰغه چاړهٔ لاندې راغورځیږي، کوم اِنسان چې میلمستیا کوي، خیر او برکت د دې نه هم په تیزئ سره د هٰغه خوش قِسمته د کور طرف ته راځي۔

---

1… شرح مشکاۃ للطیبی، جز:4، صفحه:1204، تحت الحدیث:1228۔

2… ابن ماجه، کتاب الاطعمه، باب الضیافة، صفحه:545، حدیث:3356۔

## د میلمه پهٔ ذریعه ګناهونه بخښلے کیږي

د مدینے منورې د سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې یو میلمه د چا کره راځي نو د ځان سره خپل رزق راوړي او کله چې د هغهٔ د خوا نه ځي نو د کور والؤ د ګناهونو د بخښلو سبب وي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! بعضې وخت خلق د میلمه پهٔ لیدو ویریږي، داسې خلقو له مطمئین اوسیدل پکار دي چې میلمه کله راځي نو خپل رزق د ځان سره بخپله راوړي او کله چې ځي نو د کور والؤ د ګناهونو د بخښلو ذریعه جوړیږي۔

## فرښتے ورته د یو کال پورې دُعاګانې کوي

یو بَل اِیمان تازه کوونکے روایت واورئ! حضرت اَنس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپل وروړ حضرت براء بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته وفرمائیل چې اے بَرَّاء! اِنسان چې کله د خپل (دِیني) وروړ صرف د الله پاک د رضا د پاره میلمستیا کوي او د هغهٔ نه څهٔ بدله او مننه نهٔ غواړي نو الله پاک د هغهٔ کور ته 10 فرښتے رالیږي کومې چې پوره یو کال د هغهٔ پهٔ کور کښې اوسیږي او د الله پاک تسبیح هم کوي، د هغهٔ پاکي هم بیانوي، د الله پاک لوئي والے هم بیانوي او د کور والؤ د پاره د بخښنې دعاګانې هم کوي۔

کله چې کال پوره شي نو د هُغه فرښتو د پوره کال د عبادت همره عبادت د کور والؤ پهٔ اعمال نامه کښې لیکلے کیږي او د دې سره به پهٔ اخرت کښې هغهٔ ته دا بدله هم میلاؤیږي چې الله پاک به پهٔ هغهٔ باندې د جَنَّت خوندور خوراکونه خوري۔ (2)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې څومره زبردست فضیلت دے ❁ میلمه

---

[1]... مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:432، حدیث:3896۔

[2]... معرفة الصحابة لابي نعیم، جلد:1، صفحه:339، حدیث:1154۔

چې مو کور ته راشي نو د هغۀ پۀ ښه طريقه ميلمستيا اوکړئ! ❀ پۀ بدله کښې به څۀ ميلاؤيږي؟ زمونږ کور به د خير او د برکت ځائے جوړ شي ❀ فرښتے به زمونږ کور ته تشريف راوړي ❀ زمونږ پۀ کور کښې به اوسيږي او د اللّٰه پاک معصومې فرښتے به د اللّٰه پاک حمد او ثنا بيانوي ❀ او زمونږ د پاره به د بخښنې دُعاګانې کوي- دا زبردست فضيلتونه دي- د اختر موقع ده، که د خوش قِسمتئ له وجهې ميلمانه کور ته تشريف راوړي نو دا روايتونه پۀ ذِهن کښې ساتئ او پۀ ښه انداز کښې د هُغه ميلمنو ميلمستيا کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ټول کار پورې به مو کور د خير او برکت ځائے جوړ شي-

## د ميلمستيا آداب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ميلمستيا ډير ښۀ عمل دے، د نيکو والا عمل دے خو د افسوس خبره دا ده چې دلته ورومبے خو دا نيک کار پۀ نيکئ ګڼلو نۀ کيږي، دويم دا چې د دې ښه عمل د آدابو خيال هم خلق نۀ ساتي- بعضې وخت چې ميلمه راشي نو د هغۀ سره د ګناهونو لړئ هم زياته شي، مثلاً ❀ بے پردګي کيږي، د ترور د ځوي نه، د ماما د ځوي نه،د ترۀ د ځوي نه، د چاچې نه، د مامي نه پرده ده خو عام طور د پردې خيال نۀ ساتلے کيږي، دا هم د ګناهونو صورتونه جوړيږي ❀ هم دغسې بعضې وخت د ميلمه يا د کوربه د زړۀ ازارئ صورت هم جوړيږي ❀ نور هم ډير حالتونه دي چې کله د ميلمنو پۀ راتللو د هغې د آدابو خيال وه نۀ ساتلے شي نو مسئلې پيدا کيږي، ډيره لرې نۀ ده چې بعضې وخت جنګ جګړې هم کيږي- خير زمونږ د شريعت دا خاصيت دے چې پۀ دې کښې صرف د نيک اعمالو فضائل نۀ بيانولے کيږي بلکې د نيکو کولو آداب او ښه انداز هم ښودلے کيږي- ځکه د ميلمستيا آداب هم زده کول پکار دي-

## د میلمستیا آداب

پهٔ حدیثِ پاک کښې اِرشاد دے: **اِذَا جَاءَکُمُ الزَّائِرُفَاَکْرِمُوْهُ** کله چې ستاسو کره څوک میلمه راشي نو د هغهٔ عزت کوئ! (1)

دلته وګورئ چې مونږ له حکم راکړے شو چې د میلمه عزت کوئ! اوس د دې عزت مطلب څهٔ دے؟ هٔغه کوم کوم کارونه دي کوم چې مونږ د خپل میلمه د پاره اوکړو نو هغي ته به د میلمه عزت وئیلے شي؟ پهٔ دې باره کښې پهٔ قرآنِ کریم کښې **د یو عظیم میلمه دوست بے مثاله میلمستیا** بیان کړے شوې ده-

## د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ځانګړې میلمستیا

د الله پاک نبي او خلیل دے: حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام- هغوئي ته ابُو الضَّیفَان (یعني ډېر میلمه دوست) وئیلے کیږي- د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ باره کښې راځي چې هغوئي ډېر میلمه دوست وو، د هغوئي عادت مبارک وو چې یواځې به یې ډوډۍ نهٔ خوړله، میلمه چې به راغلو نو د هغهٔ سره به کیناستو او ډوډۍ به یې خوړله، که چرته به میلمه رانغلو نو ځپله به بهر لاړو او څوک به یې لټولو، میلمه به یې د ځان سره راوستلو او د هغهٔ سره به کیناستو او ډوډۍ به یې خوړله-

یو ځل داسې وشول چې د الله پاک څهٔ معصومه فرښتو د اِنسان پهٔ شکل کښې د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام کور ته تشریف راوړلو، اوس دوئي خو پهٔ اِنساني شکل کښې وې او وو هم میلمانهٔ نو حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي وه نهٔ پیژندلې، بیا څهٔ وشو؟ الله پاک فرمائي:

---

1... مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما جاء فی اکرام الضیف...الخ، جلد:2، صفحه:156، حدیث:330-

فَرَاغَ اِلٰۤى اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِیْنٍۙ(۲۶) فَقَرَّبَهٗۤ اِلَیْهِمْ

(پاره:26، سورۂالذّٰریات:26، 27)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا اِبراهیم د خپل کور والؤ طرف ته لاړلو نو یو څورب سخے یـې [پوخ کړے] راوړلو- بیا یـې هغه هغوئي ته کیښودلو نو اوئې فرمائیل: آیا تاسو خوراک نهٔ کوئ؟-

یعني کله چې دا فرښتے راغلې نو پهٔ اِنساني شکل کښې وې، حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام هغوئي پیژندلې هم نهٔ، د دې باوجود حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د هغوئي نه د نوم پوښتنه وه نهٔ کړې، نهٔ یـې ترینه د پتې پوښتنه اوکړه، زر یـې هغوئي پهٔ کور کښې کښینول او بخپله لاړو او سخے یـې ذبح کړو، هغه یـې پوخ کړو او زر یـې راوړو د میلمنو مخې ته یـې کیښودو- (1)

دا د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام بے مثاله میلمستیا وه، علمائے کرامو د دې واقعې نه د میلمستیا ډیر آداب راویستي دي-

## وړومبے ادب: د هر چا میلمستیا کوئ!

علمائے کرام فرمائي: پهٔ دې کښې یو خو دا ادب دے چې حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د فرښتو نه د نوم پوښتنه هم وهٔ نهٔ کړه، د دې نه مونږ ته سبق میلاؤیږي چې د میلمستیا د پاره دا ضروري نهٔ ده چې میلمه مونږ پیژنو، که څوک نا اشنا کَس هم زمونږ کور ته راشي نو د هغهٔ هم میلمستیا کول پکار دي- (2)

---

[1]… صراط الجنان، پاره:26، الذّٰریات، زیرِ آیت:26، جلد:9، صفحه:499بتغیر۔

[2]…کشف الحجوب، کشف الحجاب التاسع…الخ، باب الثانی و العشرون…الخ، صفحه:406 بتغیر۔

نن سبا چې څنګه حالات اُلټا پلټا دي، د سیکورټۍ مسئلې کیدے شي، په دې باره کښې خو به مونږ اِحتیاط کوو۔ البته دا زمونږ د اخلاقو حصه پکار ده چې څوک زمونږ د ملاقات د پاره راشي نو که هغه زمونږه رشته دار وي او که نۀ، دوست وي او که نا اشنا، مونږ ته پکار دي چې د هغۀ سره په ښه طریقه میلاؤ شو، د ښو اخلاقو مظاهره اوکړو او په ښه انداز کښې د هغه میلمستیا اوکړو۔

## دویم ادب: په میلمستیا کښې تادي کوئ!

د دې نه د میلمستیا دویم ادب هم مونږ ته د زدکړې د پاره میلاؤ شو چې کله څوک میلمه زمونږ کور ته تشریف راوړي نو د هغۀ په میلمستیا کښې تادي کول پکار دي! وګورئ چې د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام کور ته فرښتو په اِنساني شکل کښې د میلمه په توګه تشریف راوړلو نو هغوئ تادي اوکړه۔ په میلمنو یې انتظار وه نۀ کړو بلکې فوراً یې سخے ذبح کړو او هغه یې پوخ کړو او د میلمنو مخې ته یې حاضر کړو۔

لهذا مونږ له پکار دي چې کله کور ته میلمه راشي نو زر تر زره د هغۀ میلمستیا اوکړو، میلمه له اوبۀ راوړو، چائے ورله پوخ کړو، خوراک ورله تیار کړو، چې څنګه موقع وي، څنګه میلمه وي، څنګه موسم وي، د هغې مطابق زر تر زره میلمستیا شروع کړو۔

## په 6 کارونو کښې تادي ضروري ده

د بزرګانِ دِین (یعني د الله پاک د نیکانو بندګانو) فرمان دے: تادي شیطاني عمل دے خو په شپږو کارونو کښې تادي ضرور پکار ده: (1): کله چې د نمونځ وخت شي نو په نمونځ کولو کښې تادي ضروري ده (ګني نو شیطان به ناراستي در اچوي او نمونځ به درباندې قضا کوي) (2): د مړي په دفن کولو کښې (3): کله چې جینۍ بالغه شي د هغې

پهٔ نکاح کښې دې تادي اوکړے شي! **(4)**: که قرض مو اخستے وي او د ورکولو وَس لرئ نو پهٔ هغې کښې تادي کول پکار دي **(5)**: که ګناه وشي نو پهٔ توبه کولو کښې دې تادي اوکړے شي **(6)**: کله چې میلمه تشریف راوړي نو پهٔ هغهٔ دې خوراک زر اوکړے شي۔ [1]

## دریم ادب: میلمستیا پهٔ خپل لاس باندې کوئ!

د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د میلمستیا نه دریم ادب دا د زدکړې د پاره میلاؤ شو چې کله میلمه تشریف راوړي نو ځپله هم پهٔ خپل دې د هغهٔ میلمستیا اوکړے شي۔ وګورئ چې حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نبي دے، د هغوئي سره پهٔ زرګونو محبت کوونکي هم وو، د دې باوجود هغوئي ځپله سخے ذبح کړو او هم ځپله د میلمنو پهٔ میلمستیا کښې مصروف شو۔

که د بازار نه څهٔ راغوښتل دي، نو هغه خو ظاهره ده چې د کور پهٔ ماشومانو، ځامونو وغیره باندې راوړے کیدے شي خو کوشش کول پکار دي چې ځپله هم پهٔ میلمستیا کښې څهٔ برخه لازمي شامله کړے شي۔ یو څو ورځې مخکښینی خبره ده، شیخ طریقت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ خپل کور کښې د دارُ الافتاء اهلسُنَّت د مفتیانو صاحبانو دعوت کړے وو۔ اوس د امیرِ اهلِسُنَّت عمر مبارک ډیر زیات دے، ظاهره ده چې د عمر پهٔ دې لحاظ سره د طبیعت څهٔ مسئلې هم وي، بیا هغوئي پیر هم دے، کوم میلمانه چې هٔغه وخت حاضر وو، پهٔ هغې کښې خو ډیر د هغوئي مُریدان هم وو، د دې باوجود د امیرِ اهلِسُنَّت عاجزي، د هغوئي د علمائے کرامو سره محبت صد مرحبا--!! هغوئي مفتیان صاحبان پهٔ دسترخوان باندې کښینول او د خوراک لوښي وغیره یې پهٔ خپلو لاسونو پهٔ

[1] …روح البیان، پاره:15، سورهٔ بنی اسرائیل، زیرِ آیت:11، جلد:5، صفحه:137۔

دسترخوان باندې کېښودل او د مفتیانو صاحبانو یــې په ښه طریقه میلمستیا اوکړه۔ داسې مونږ له هم پکار دي چې کله میلمانه تشریف راوړي نو ښځپله ور وړاندې شو ، چې څومره رانه کیدے شي منډې کړو او د هغوئي د میلمستیا اِنتظام اوکړو او که کیدے شي نو دسترخوان هم ښځپله وغوړوو، په دسترخوان باندې خوراک هم ښځپله کېږدو۔ داسې چې د میلمه عزت کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به میلاؤیږي۔

## د میلمستیا څهٔ نور آداب

حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه د میلمستیا یو څو نور آداب هم لیکلي دي: واورئ! لیکلي یــې دي: ❁ چې کله میلمه راشي نو ډیر په روڼ تندي (یعني په مُسکي کیدو، د جوش په انداز) یــې هرکلے اوکړئ! ❁ هغه د عزت په ځائے کښې کېښنوئ! ❁ د میلمه راتلل هم د حق د طرف نه راتلل وګڼئ او تلل هم د حق د طرف نه ګڼئ او میلمه د حق بنده  وګڼئ (دا ډیر د کمال ادب دے۔ مطلب دا دے چې کله میلمه راشي نو اِنسان دې دا وګڼي چې دا د الله پاک په خوښه باندې راغلے دے، کله چې واپس ځي نو دا خیال دې اوکړي چې دا هم د الله پاک په خوښه تلے دے او میلمه د الله پاک بنده وګڼئ او میلمستیا یې اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د میلمستیا خوند به یو په دوه شي) ❁ که میلمه تنهائي غواړي نو د هغهٔ د پاره دې د تنهایۍ اِنتظام اوکړے شي ❁ که میلمه ته د جلوت ضرورت وي (یعنې که میلمه غواړي چې د هغهٔ سره دې څوک کښیني، د هغهٔ سره دې خبرې اوکړي نو) کوربه دې د هغهٔ سره کښیني، د هغهٔ سره دې ښې ښې خبرې اوکړي ❁ که میلمه ته د نوو جامو ورکولو وَس وي نو هغه هم ورکړئ، که د دې وَس نهٔ وي نو تـکـیلف مهٔ کوئ۔ (1)

---

1... کشف الحجوب، کشف الحجاب التاسع...الخ، باب الثاني و العشرون...الخ، صفحه:406، 407 ملتقطاً۔

## د میلمستیا یو ضروري ادب

د دې آدابو د بیانولو نه پس حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د میلمستیا یو بل ډیر ښکلے اَدب بیان کړے دے، دا ادب ښه پۀ توجه سره او د زړۀ پۀ غوږونو واورئ! داتا حُضُور رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: کوربه له پکار دي چې د هغۀ پۀ ښار کښې چې کوم (عاشقانِ رسول) علمائے کرام، د الله پاک نیکان بندګان اوسیږي، خپل میلمه د هغوئي سره د میلاوهلو د پاره هم بوځي - (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده---!! ❀ دلته خو داسې کیږي چې میلمه راشي نو یو پارک ته د بوتللو انتظام یې کولے شي ❀ د پکنک پۀ نوم باندې د سیل ځایونو ته تللے شي ❀ بیا هلته بے پردګي عامې وي ❀ د اخترونو پۀ موقع باندې د سیل پۀ ځایونو کښې عجیبه حالت وي ❀ سندرې سازونه غږولے کیږي ❀ هلکانو درز غوبل جوړ کړے وي او پته نۀ لګي چې څۀ څۀ کوي- داتا حُضُور رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زمونږ تربیت فرمائي چې میلمه د علمائے کرامو پۀ خِدمت کښې حاضر کړئ، د الله پاک د نیکانو بندګانو سره یې میلاؤ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د نیک صحبت برکتونه به یې هم نصیب شي او د هُغه علمائے کرامو او د نیکانو بندګانو دعاګانې به یې هم نصیب شي-

دغه شان عام طور پۀ هر ښار کښې د نیکانو خلقو، د اولیائے کرامو مزارونه هم وي، کوشش اوکړئ چې میلمه هُغه مزارونو ته بوځئ، هلته حاضري اوکړئ او فاتحه خواني هم اوکړئ، هلته دعاګانې هم اوکړئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي-

دا د میلمستیا یو څو آداب ما عرض کړل! الله پاک دې مونږ ټولو ته پۀ دې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

[1]... کشف الحجوب، کشف الحجاب التاسع...الخ، باب الثانی و العشرون...الخ، صفحه: 407۔

## اِیصالِ ثواب هم ضرور کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن د اختر ورځ ده، د خوشحالۍ موقع ده، په ننۍ ورځ باندې مونږ ته د خپلو هغه خپلوانو، زمونږ د هغه مسلمانانو وروڼو کوم چې زمونږ سره نشته، د دُنیا نه تلي دي، هغوئي هم یاد کړئ! د هغوئي سره هم ښیګړه اوکړئ!

دا به څنګه کوو؟ د ایصالِ ثواب په ذریعه، مونږه روژې ونیولې، تراویح مو اوکړې، قرآن کریم مو واوریدلو، واورولو، د قرآنِ کریم تلاوت مو اوکړو، د تهجدو سعادت مو حاصل کړو، نفلونه مو اوکړل، په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې مو ذِکر اوکړو او دُرُود شریف مو ووئیلو، د هغې ثواب او نن چې څومره هم نیکۍ کوو، د دې ټولو ثواب هم خپلو وفات شوو ته د تحفې په توګه اولیږئ، دا به د هغوئي سره ښیګړه شي-

په حدیثِ پاک کښې دي: د مړي حال په قبر کښې د ډوب شوي انسان په شان دے چې هغه ډیر سخت انتظار کوي چې پلار یا مور یا ورور یا د چا دوست دُعا هغهٔ ته ور ورسي او چې کله د چا دُعا هغهٔ ته ور ورسي نو د هغهٔ د پاره د دُنیا و مافیها (یعنې دُنیا او څهٔ چې په دې کښې دي) نه بهتر وي- الله پاک قبر والؤ ته د هغوئي د ژوند متعلقینو د طرف نه هدیه کړے شوے ثواب د غرونو په شان عطا کوي، د ژوند هدیه (یعنې تحفه) د مړو د پاره د بخښنې دُعا ده- (1)

## په قبر کښې به یې انوار داخلیږي

منقول دي چې کوم کَس د اختر په ورځ 300 کرته سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ ولولي او د

[1]... شُعَبُ الْاِیمان، باب فی بر الوالدین، جلد:6، صفحه:203، حدیث:7905-

وفات شوو مسلمانانو روحونو ته يـې ايصالِ ثواب کړي نو د هر يو مسلمان پۀ قبر کښې زر [1000] انوار داخليږي او چې کله هُغه لوستونکے پخپله مړ شي، الله پاک به د هغۀ پۀ قبر کښې هم زر [1000] انوار داخل کړي- [1]

يا رَبِّ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ ته د اختر خوشحالئ د سُنَّت مطابق، پۀ ښيګړه کولو، نورو ته پۀ فائده رسولو، پۀ خوشحالو تقسيمولو توفيق راعطا کړې- اے خوږه الله پاکه! مونږ ته د حج شريف او د مدينے منورې د ښار او د مدينے منورې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدن مَدَني اختر بيا بيا را عطا کړې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

تِری جبکہ دید ہو گی جبھی میری عید ہو گی | مرے خواب میں تُو آنا مَدَنی مدینے والے [2]

## د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ وړومبي شوّال شريف [يعنې د اختر پۀ ورځ] اِمام محمد بن اسماعيل بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې فاني دُنيا نه سفر فرمائيلے دے، پۀ دې مناسبت سره د هغوئي مختصر ذِکرِ خير اورو: اِمام بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي ولي الله، ډير لوئي عالِمِ دِين او پۀ خاص توګه د علمِ حديث ډير لوئي اِمام دے- اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ ديارلسم شوّال شريف کال 194 هجرى پۀ بُخارا شريف کښې دُنيا ته تشريف راوړے [3] او پۀ وړومبي شوّال شريف د 62 کالو پۀ عمر کښې پۀ کال 256 هجرئ کښې يـې د دې فاني

---

[1] ... مُکَاشِفَةُ الْقُلُوب، باب فی فضل العید، صفحه:462-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:424-

[3] ... ہدایۃُ السَّارِی، صفحه:49-

دُنيا نه رحلت وفرمائيلو- [1] د هغوئي مزار مبارک د سمر قند سره نزدې پهٔ " خَرتَنک " نومې کلي کښې دے- [2]

امام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ټول عمر د عِلمِ حديث ښه ډير خدمت اوکړو، امام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير عبادت ګزار، زاهد، او متقي وو، د امام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د وفات کيدو نه پس تر ډيرې مودې پورې د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د قبر مبارک نه د مشکو نه هم زياته ښه خوشبوئي راتلله- [3] پهٔ ننۍ ورځ د اِمام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پاره هم اِيصالِ ثواب اوکړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي-

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغيب

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! خوش قِسمته مسلمانان د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژونو د نيولو سعادت حاصلوي- راځئ چې د دې روژو فضائل واورو د پاره د دې چې د دې روژو د نيولو او د دې د برکتونو نه د فيض حاصلولو ذهن مو جوړ شي، نو

❁ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يــې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونيولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خِيټې نه پيدا شوے وي- [4] ❁ چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يــې د هغې نه پس پهٔ شوال کښې

---

[1] …ہدایۃُ السّارِی، صفحه:179۔

[2] …ہدایۃُ السّارِی، صفحه:177۔

[3] …ہدایۃُ السّارِی، صفحه:178۔

[4] …مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام …الخ، جلد:3، صفحه:322، حديث:5102۔

6 روژې ونیولې- نو داسې ده چې لکه ټول عمر یې روژې ونیولې- [1] ❁ خَلیلِ مِلَّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونیولے شي نو بیا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې پۀ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پۀ دویمه ورځ یوه روژه ونیسي او که پۀ ټوله میاشت کښې یې ونیسي نو نور هم مناسب معلومیږي- [2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... مسلِم، کتاب الصیام، باب استحباب صوم ...الخ، صفحه:424، حدیث: 1164۔

[2] ... سنی بهشتی زیور، صفحه:347۔